**د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت**
**دمقام د دفتر ریاست**
**د عامه اطلاعاتو لوی مدیریت**

---

**مطبوعاتي اعلامیه**

نیټه: ۱۳۹۱/۱۱/۱۰

د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجی وزارت ویاړ لري چې د نورو پرمختګونو او لاسته راوړنو تر څنګ د پراخه اړیکو په موخه د معلوماتی ټولني او بریښنائي حکومتداری پر لور خپلي هڅي لا ګړندی کړیدي، څرنګه چې هیوادوالو ته جوته ده د معلوماتي ټولني اساسي بنسټ انترنیټي خدمتونو او معلوماتی ټکنالوجي شمیرل کیږي، د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجی وزارت، معلوماتی ټولني ته د رسیدو په هیله، دا دی نن د سلواغي په ۱۰مه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت او د پوهني وزارت د "مخابراتی او معلوماتی ټکنالوجی رول په پوهنه کې" تر سرلیک لاندی د دواړو وزارتونو تر مینځ د همکاریو په برخه کې یو تفاهملیک لاسلیک کوي.
ددغه تفاهملیک په بنسټ به د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت د مخابراتي خدماتو د پراختیا له صندوق څخه، د پوهني وزارت سره لاندې ښوونځیو او مسلکي لیسو کې د معلوماتي ټکنالوجی په کاروني سره د زده کړي او تدریس آسانتیاوي برابروي، د دغو همکاریو په پایله کې به د کابل او د ولایاتو یو شمیر ښوونځیو ته انترنت، دکمپیوټر خوني اوهغه وسایل او توکي چې استادان او زده کوونکي وتوانیږي چې د زده کړي بهیر په پرمختللي او عصری توګه ترسره کړي.

- د کابل میخانیکي انستیتوت
- د تجارت د نسوانو لیسه
- د افغان تکنالوجی انستیتوت
- د سید جماالدین دار المعلمین
- د مسلکي استادانو د روزني انستیتوت
- په کابل او د هیواد په ولایتونو کې ۵۰ عادی لیسي

د یادولو وړ ده چې د یادي پروژي ټولیز لګښت دوه میلیونه امریکائي ډالرو په شاوخوا کې دی چې د مخابراتو د خدماتو د پراختیا صندوق څخه به د مخابراتو د قانون سره سم د ATRA اداري له لوري اداره او ورکول شي.

**په درنښت**

---

پته:
محمد جان خان واټ
کابل- افغانستان
دتیلفون شمیره 0202101104
ویب پاڼه: www.moc.gov.af

Address:
Mohammad Jan Khan Watt
Kabul – Afghanistan
0202101104
Web Site: